# اووه کسان دي چې الله تعالی به هغوی د خپل سیوري لاندې کړي، په هغه ورځ چې د الله له سیوري پرته به بل هېڅ سیوری نه وي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "اووه کسان دي چې الله تعالی به هغوی د خپل سیوري لاندې کړي، په هغه ورځ چې د الله له سیوري پرته به بل هېڅ سیوری نه وي: عادل پاچا، هغه ځوان چې د الله په عبادت کې رالوی شوی وي، هغه سړی چې زړه يې له جوماتونو سره تړلی وي، هغه دوه کسان چې د الله لپاره يو بل سره مينه لري، په همدې سره يو ځای شوي وي او په همدې سره جلا شوي وي، او هغه سړی چې يوې د منصب او ښکلا خاوندې ښځې (بدکارۍ) ته بلنه ورکړې وي خو هغه ويلي وي: زه له الله نه وېرېږم، او هغه سړی چې په پټه صدقه ورکړي، تر دې چې چپ لاس يې نه پوهېږي ښي لاس يې څه ورکړي دي، او هغه سړی چې کله الله ياد کړي، نو سترګې يې له اوښکو ډکې شي".
[صحيح] [متفق علیه دی]

رسول الله ﷺ اووه ډوله مؤمنانو ته زېری ورکړی، چې الله تعالی به هغوی د خپل عرش تر سیوري لاندې کړي، په هغه ورځ چې د هغه له سیوري پرته به بل سیوری نه وي: لومړی: هغه واکمن چې په خپل نفس کې عادل وي او فاسق نه وي، د خپل رعيت په منځ کې انصاف کوي او ظلم نه کوي؛ دا هغه څوک دی چې د مسلمانانو لویه واکمني لري او هر هغه څوک چې د مسلمانانو له چارو څخه څه په واک کې لري او انصاف پکې کوي، هم دې درجې ته ور شاملېږي. دويم: هغه ځوان چې د الله په عبادت کې رالوی شوی وي او خپله ځواني او قوت يې پکې مصرف کړی وي، تر دې چې په همدې حالت کې وفات شوی وي. درېيم: هغه سړی دی چې زړه يې له جومات سره تړلی وي، کله چې ترې ووځي، تر هغه پورې چې بېرته ورته راوګرځي، د جومات سره د سخت محبت، ډېر تګ راتګ او دوامداره زړه نيوي له امله، که څه هم بدن يې له جوماته بهر وي. څلورم: دوه هغه کسان چې هر يو د بل سره د الله لپاره رښتينې مينه ولري، او د ديني محبت پر بنسټ دوام ورکړی، او دا مينه د دنياوي خنډ له امله پرې نه کړي، که سره يو ځای شوي وي يا نه، تر هغه چې مرګ يې جدا کړي. پنځم: هغه سړی چې يوې د نسب، شرف، مقام، مال او ښکلا خاوندې ښځې ځان ته د بدکارۍ لپاره بلنه ورکړې وي، خو هغه ترې انکار کړی وي او ورته يې ويلي وي چې: زه له الله نه وېرېږم. شپږم: هغه سړی چې لږه يا ډېره صدقه يې ورکړې وي، او ريا يې پکې نه وي کړې، بلکې پټه کړې يې وي، تر دې چې چپ لاس يې نه پوهېږي چې ښي لاس يې څه ورکړي دي. اووم: هغه سړی چې الله راپه زړه کړي، يا په ژبې سره يې ياد کړي، په داسې ځای کې چې له خلکو لرې وي، نو د الله له وېرې او د هغه له تعظيمه يې سترګې راډکې شي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee